UNOPS

آواز افغانستـان
د افغانستان‌آواز
Awaaz Afghanistan

# د افغانستان آواز: په افغانستان کې د حسابورکونې او ټولنې یوځایې کېدون پراختیا

د افغانستان آواز یو د حسابورکونې او ټولنې یوځایې کېدون نوښت دی چې زیانمن شوی کسان کولای شي په وړیا ډول اړیکه ونیسی او د مرستندویه برنامو په اړه مالومات ترلاسه کړي. د یو دوه اړخیزه ارتباطی چنل په څیر اړتیاوي او اولویتونه د ساحې نه له همکارانو سره د برنامو د څرنګوالی د ښه کولو لپاره په افغانستان کې شریک کوی.

## کاری ساحه

بشری و ضعیت په افغانستان کې یو له نړیوالو ډیر شدید او ستونزمنو بحرانونو څخه دی. زیات شمیر وګړي په یوه دایمی پړاو د بحرانی وضعیتونو لکه د کرونا اغیزو، ناامنی او پرغلګرو فعالیتونو زیاتوالی سره مخ دي چې اوسنۍ او نوی بشری اړتیاوي زیاتوی. کرونا او په ټوله هیواد کې یو دوامداره زیاتوالی د جګړو د یو بې سابقه اغیزو سبب شویدی چې 14 میلیون وګړي له حیاتی بشری مرستو لپاره په 2020 کې اړ پاته شي.

*"د افغانستان آواز د دوه اړخیزو اړیکو د ښه کولو په برخه کې کار کوی او د ځواب ورکونې په برخه کې د جنسی سوء استفادی په شمول په افغانستان کې د یو کتلی حیثیت لری".*
*د ساتنې او زیانمن شویو کسانو د ځواب ورکونې مشاور، د خوراک نړیوال سازمان، افغانستان، جنوری 2019*

### اړیکه مرسته ده

نړیوال د وخت په تیریدو سره د ټولنو منظم او یوځایې کېدون ته اهمیت ورکوی او په دی آند دي چې دا کولای شي چې د برنامو څرنګوالی ښه کړی او لا ښه او مقاومه ټولنې منځ ته راوړي. د افغانستان آواز یو د مالوماتو، شکایتونو او نظرونه شریکولو د ځانګړي ټلیفونی شمیری مرکز دی چې هر افغان کولای شی د مبایل له لاری په وړیا ډول اړیکه ونیسی.

### ځوابورکونه په عمل کې

د یو هر اړخیزه ګډونوالی او ځوابورکونې میکانیزم په حیث، د افغانستان آواز د نړیوالی بشری مجلس (WHS) د تعهداتو پر بنسټ لکه سیمیزه رهبری، سیمیز عمل، د ظرفیت لوړوالی او د ګډون زیاتوالی ته ژمن دی.

د افغانستان خلک د افغانستان آواز د کارونو په مرکزی ځای لری. د افغانستان آواز لس ټلیفونچیان لری (٪50 یې ښځینه دی).

د افغانستان آواز د فعالیت له پیل نه د مۍ 2018 نه تر اوسه، له 1,32,000 زیاتو خلګو سره یې په ټوله افغانستان کې په مستقیم ډول خبری کړیدي. له کلسټرونو او همکارانو سره یې د مالوماتو شریکولو لاري یې رامنځ ته کړیدی. هغه قضیې چې پاملرنې ته یې اړتیا درلود د زیانمن شوی کسانو په اجازه له همکارانو سره پر وخت شریک شویدي ترڅو د بشری ځواب له اصلی اړتیاو د مطابقت سره مرسته وکړی.

په فبروری 2020 کې کله چې لومړی اړیکه د کرونا په هکله  د افغانستان آواز ترلاسه کړه نو د افغانستان آواز خپل همکاری د نړیوال روغتیایی سازمان او نورو همکارانو سره له نږدی ترسره کړیده ترڅو د کرونا خطرونه له خلکو سره شریک کړي. د هغه وخت نه وروسته، د افغانستان آواز خپل په سیستم کې غبږیز پیغامونه ثبت کړیدي چې تر اوسه 22,000 اړیکه نیونکو دا پیغامونه اوریدلی دي او د افغانستان آواز کار کوونکو تر 3,300 زیات اړیکې په مستقیم ډول د ټول هیواد نه ترسره کړیدي.

## د پروژې کنټرول

د افغانستان آواز پروژه د ملګرو ملتونو پروژوی خدمتونو (UNOPS) لخوا د افغانستان بشری مرستی صندوق (AHF)، د اروپایي ټولنې ملکی مرستی او ساتنې (ECHO)، د خوراک نړیوال سازمان (WFP) او د ملګرو ملتونو عالی کمیشنری د مهاجرینو لپاره (UNHCR) په مالی ملاتړ سره پلی کیږي.

## زموږ سره په اړیکه کې شئ

که غواړئ چې دا افغانستان آواز سره په وړیا ډول له افغانستانه اړیکه ونیسئ، نو له 410 شمیری سره په اړیکه کې شئ. د لازیاتو مالوماتو لپاره، له awaazaf.org نه لیدنه وکړئ.

وروستي نسخه: ١٠/اسد/١٣٩٩

UNHCR The UN Refugee Agency
WFP
Funded by European Union Humanitarian Aid
Supported by: AHF Afghanistan Humanitarian Fund